(c) ketabton.com: The Digital Library



# وطنه

سرې مرمۍ دي هري لوري ته اورېږي
ستا له غبېږي غلبلې دي پورته کېږي
د نااهلو په لاس ته يې کباب سوی
دا سرې وينې د زړګي څخه بهېږي
ستا تر نام او لوړ نښان دي سپلنی سم
ستر وحشت دئ چې ولس دي په سوځېږي
جنازې د بېوزلانو په قطار دي
هديرې دي هري خوا ته پراخېږي
ستا دښمن دئ فريبکار نن په کمين کې
ښه ځوانان دي خپل له تنه نه بېلېږي
سد مو خلاص کړئ د بابا باتور بچيانو
د نفاق زنې ستا کور ته پاشل کېږي
خپل د عقل استدلال پر وطن وکړه
که پوه نه سې نور به هر څه ويجاړېږي
خپل په لاس ټوله ويرانه ويرانې ده
امانزيه ټول فکرونه کنګلېږي

ناروي۲۰۰۷۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوب

خوبه ته مې چيري بيايې ننداروته
د هلمند پر غاړه ناست يم منظروته
رود خانه کې غرغړې نور خاموشي وه
څوار لسم سپوږمۍ ولاړه ځلېدو ته
سپين لنگر ئې اچولی او بو منځ کې
د کبانو ډلې راغلې گرځېدو ته
شنې اوبه بيخي شفافې او روڼې وې
معلومېږي کاڼي ښکي اخيستو ته
نا بېره د نهنگ حملې پر راغلې
تاش په تاش هر څه ويجاړ زما چشمو ته

ای خالقه زورواکان څومره ظالم دي
رڼا ولاړه توري لوښې ښوربدو ته
د جابر ناورين همدا سې زموږ پر خلگو
اميدونه مخ په وړاندې ماتېدو ته
د صياد غشې به کله را پيدا سي
چې نهنگ را برابر کړي ړند بېدو ته
امانزيه د مظلوم چيغې دي پورته
اسمانو ته به رسېږي اوربدو ته

ډهلي ۰۹ فبروري ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلبلان په چونهار سوه
سحرگاه ټوله بیدار سوه
تورتم ځي په تلوسه کي

د نرگس زړګی اوبېړي
چي شمال کمکی چلېږي
وینم در په دردانه کي

تبسم را معلومېږي
ډکه خوله د خندا کېږي
شین سهار په ازانګه کي

د حکمت شباب ته گوره
سو پیدا له کومه لوري
د ګلونو په کاسه کي

د لمر وړانګي ښه ځلېږي
زړونه ټول په هوسېږي
عندلیب په ترانه کي

دغه خومره ستر قوت دئ
تمثیل ټول د قدرت دئ
د اسحق په عقیده کي

